






د محب الرحمن « خطيبي » ليکنه
د نشر نيټه : ۱۳ اپريل ۲۰۱۳ ميلادی

# زړګی می يار لټوی

بيا مـــی زړګی ورک شوی يار لټوی
سوړ کاشانی ته خپل بهـار لټوی
چـــی له هجرانه ناروغ ځان وژغوری
هر خوا نظر کړی پرستار لټوی
نشته دی څوک چی د زړه غم وزغمی
همدی کبله زړه غمـــخوار لټوی
ځم ګلستان ته چی خپل زړه تازه کړم
چی ګل پيدا کی زړه ګلزار لټوی
زه ناست، تـــا سر په زنګانه ايخی وو
زړه مـــی وياله هغه چنار لټوی
مينه قمار دی وای لوبه مه کړه
ولی محب ځی خپل قمار لټوی

****

محب الرحمن « خطيبي »

بازګشت به صفحه اصلی - www.said-afghani.org